**ليکونکی** : ستيفن لاند من (Stephen Landman)

**منبع او دنشر نيټه** : ګلوبال ريسرچ «2019-03-15»

**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

---

# دامريکی دمتحده ايالاتو اود طالبانو ترمينځ خبری اتری اودهغه ريښتينی پرمختګ اويا نه پرمختګ : دافغانستان دمعدنی مينرالونو په ملياردونو دالر ثروت

## *US Taliban talks :real or illusory progress ? Afghanistan's multibillion Dollar mineral wealth*



*دا فغا نستا ن ځنی برخي دمتحده ايالاتو- افغا ن د تجاوز اود رانيولو په ترسره کولو کی د(اولس) کا لو جګړی په دوام سره سره بيا هم په عمد ه بڼی سره بی تغير اويا بی بد لون پا تی دي.*

*افغا نستا ن اوسنی وضع هغه څه شي منعکس کوی کوم چي يوځل د (سی آی ای) رسمی مقامات هغه دويتنا م د جګړی په نامه سره يا ده کړی وه ، ددی يا دونی څخه مطلب دادی چي دامريکی دمتحده ايالاتود ډاردليل په دغه راګيرشوی روانه جګړه کی دامريکی دنا شونی بريا مسله دی ، يعنی هغسی يوه دوامداره جګړه کی چی د*

هغه د حل واقعي لاره لا تراوسه نه تر سترګو کيږي .

دامريکی د متحده ايالاتو ډګروال **دانيل ديوس** (Daniel Davis) وروسته له هغه چې ديوی اونی په موده کی د ا شغا ل شوی سيمی د ليد و ته سفرکړی وه نو هغه دهيواد پرموجوده حالاتو اوشرايطو با ندی فرماندها نو ، ټيټ رتبه سرتيرو ، ا فغا نی امنيتی چا رواکو اود کلی مشرا نو ته په خبرو کی خپل ارزونی په ډاګه کړ.

هغه ډير خبری ونکړ، اما وويل:

دانوترڅو پوری زيا ت سړی يا خلک د يوی د ندی يا د يو ما موريت د ترسره کيدو په اړين خپل ژوند دلاسه ورکړي ؟ کوم چی په نوموړی ما موريت کی بريا ليتوب هم نا شونی وی ، هغه زيا ته کړ :

دامريکی د متحده ايالاتو لوړ پوړی نظامی چارواکي دامريکی کنګرس اودامريکی خلکو سره په تما س کی د ا فغا نستا ن دروانو چارو دموجوده شرايطو په اړين هغوی ته نا سم اوغلط راپور ورکړی او په دی توګه د هغوی نظر له واقيعتونو څخه منحرف کړی اويا داچی هغوی ته ويلی دی چی په ا فغا نستا ن کی دواقيعتونو پيژند نه ډير ګران کا ر دي .

دغه نا سم او غلط يا دغه انحرافی معلومات دا مريکی د متحده ايالاتو موقف دهغه د دوستا نو اودهغه د دشمنا نو په مينځ کی بی اعتباره کړی دی اوپه شدت سره زمونږ توانا يی دا فغا نستا ن دروانی جګړی د حل دلاری په روند کی محدود کړی .

هغه هرچيری چی لاړ اوچه څه يی وليد داسی څرګند کړ:

« تاکتيکی وضيعت له بد ه مرغه ډ ير بد اوناوړی دی ، يعنی په ښکا ره بڼی اوپه هره سطح او يا ميزان سره د نه بريا ليتوب موضوع ا حسا س کيږی ، موجوده شرايط له مخکينی شرايطو په انډول ډيربد او خراب دی د سيمی خلک دامريکی د دی دوامد ار جګړی په ترڅ کی له بده بدتر شوی دی اوهغه داچی امريکا يا ن دلته راغي ، دلته پا تي شو اوونه غوښتل چی ددی هيواد څخه ووځی د دايمی ا شغال يا دپا تی کيدو پروګرامونو جوړ کړ اوپه دی لټه کی دی چي د دی هيواد ټول معد نی زيرمی او مينرالونه لوټ اوچپا ول کړی کوم چی ددی هيواد عمده او قيمتی زيرمی او مينرالونه په لاندی ډول دي :

**باريت (barite) کروميت (chromite) ډبری سکاره (coal) کوبا لت (cobalt) مس(copper) سره زر (gold) داوسپنی تيګه (iron ore) سرپ (lead) په زيا نه اندازه سره قيمتی ليتيوم (lithium) اوځنی نور ی کميا ب خا کی فلزات دلوړ تکنالوژيکی محصواتو دترلاسه کولو دپاره ، طبعی ګاز (gas) نفت (oil) قيمتی او نيم قيمتی ډ بری (price stons) پتا س (potas) ما لګی (salt) سلفر (sulfer) تا لک (talc) زنک (zinc) اوځنی نور مينرالونه .**

دغه پورتني يادي شوي مينرالونه او نورمعد ني زيرمي په تريليونو ډالرو ارزش لري كوم چي د واشنګټن دخزاني داري لوړ پوړي مقا ما ت به هيڅكله ددي مينرالونو د لاسه وركول په فكركي به ونه اوسي او همد ا رنګه دامريكي دمتحده ايالاتو سيا ستمداران په دي لټه كي دي چي ا فغا نستا ن له مينځ څخه د نفت اود ګازو لولي تيري كړي يعني چي ا فغا نستا ن د ګا ز اود نفتو دلولود خط د تيرودو د يومعبر په بڼه په كار واچوي اوپه دي ډول ورڅخه ګټه تر لاسه كړي .

هغه مهم مطلب كوم چي دهغه يادونه ضرور ګڼل كيږي هغه دادي چي ديوي لوي طرحي پر بنيا د امريكا غواړي چي دا فغانستا ن خاوره دروسيي اود چين دكلا بندي په مقصد پكا رواچوي ، طا لبا نو اوس د ستي دافغا نستا ن د نيميا يي برخي څخه زيات ساحي ترخپل ولكي لاندي راوستي دي ، په كا بل كي دا مريكي تر نظارت اوكنترول لاندي يو تحت الحما يوي دولت كيښنول شوي دي ، كوم چي طا لبا نو دغه رژيم په رسميت سره نه پيژني ا و نوموړي حكومت يو غير قا نوني حكومت ګڼي نودهمدي دليل له مخي دهغه سره د سولي خبرواترو ته نه كيښيني .

دبلي خوا څخه افغانستان دنړي په سطح كي د خشخا ش دكرلو اود ترياك توليد كوم چي په هيروين باندي اړول كيږي يوځا نګړي هيواد دي چي دنوموړي مادي دتوليد كچه ډير لوړ دي كوم چي دخشخا ش كركيلنه د طا لبا نو دواكداري په وخت يعني د سپټمبر ديولسم نيټي كال (2001) څخه دمخه شنډه شوي اويا ريشه كن شوي وه ا ما له هغه وخته چي افغا نستا ن دامريكي پواسطه سره اشغال شو نو بيا له همغه وخته لا تراوسه پوري د خشخا ش كرهنه له سره پيل شوي چي دهركال په تيريدو سره دهغه د توليد كچه لوړ يږي .

## امريكا تما يل ښكاره كړي چي د طا لبا نو سره مذاكره وكړي؟

دا د پيسو مينځل د غربي هيوادونو د با نكونو لپا ره يو عا يد ا تي منبع دي اوهغه داچي دامريكي (سي آی اي) د مخد ره توكو پر قاچا ق اوپر ځني نورو جرايمو دترسره كيد و باندي ډيره كوي، ځكه چي داپخپله هغه سا زما ن ته يوعا يدا تي منبع دي چي هركال په مليا ردونو ډالر ترلاسه كوي نو دهمدي دليل پراساس دي چي ولي دامريكي رسمي لوړ پوړي چارواكي په دغه راكړي وركړي يا معامله كي ونډه اخلي يا شركت كوي .

**دونا لد ترومپ** د رژيم ، طا لبا نو سره دخبرو ا ترو رسمي استاذي (**خلمی خليلزاد**) كوم چي هغه مخكي **دبوش – ديک چينی** دا فغا نستا ن اود عراق دا شغا ل په موده كي سفيراو بيا وروسته په ملګرو ملتونو كي دامريكي سفير وه پخپله د ا مريكي د نيوكان ( نوي محافظه كاران ) د ډلي يو ډير ا فراطي غړي دي چي د واشنګټن د امپرياليستي

پروګرامونو دپلی کول ته چمتو دسولی ، برابری اود اجتماعی عدالت یو پیژندل شوی د ښمن او مخالف شخصیت دي.

د فبروري په( 25)، د طا لبا نو د چارواکو اود **خلیلزاد** په منځ کې د سولې خبرې اترې په قطر کې پیل شوې. په حقیقت کې که چیری دغه تړون ترسره هم وشی نو بیا به هم د ا فغا نا نو داوږد مها لی رنځونه درمل نکړی یعنی افغا نا ن به لدی مذاکراتو څخه دا چا نس به ترلاسه نکړی چی په ډاډه زړه دخپل تپونو دوا وکړی.

او د واشنګټن لپاره دهیڅ امکا ن شتون نلري چې ما تې وومومي او په بشپړ ډول هیواد پریږدي یا په بل عبا رت واشنګټن د خپل استثنا یی ګرایی د مفکوری په لرلو سره به هیڅکله دا فغا نستا ن په دغه جګړه کی خپل ما تی به ونه منی اوله دی هیواده څخه پخپل خوښه پښیی سپکی نکړی ترهغه پوری کوم چی لکه د اپریل په ( 1975) کال کی له ویتنام څخه چی په سپکاوی سره وتلو ته اړ نکړل شی .

ددی نوی زما نی په مها ل کی دا فغا نستا ن جګړه دامریکی دمتحده ایالاتو دجګړو په تا ریخ کی یو له خورا اوږد جګړی څخه شمیرل کیږی چی ددی جګړی پلان څو میا شتو مخکی ترلاس لاندی نیول شوی وه ، اوبیا پر ا فغا نستا ن باندی د تیری اود یرغل حکم داکتوبر میا شت کا ل (2001) صادر شوی وه تر هغه چی بیا څو هفتی وروسته د سپتمبر د یولسمی نیټی کال (2001) کی په ښکاره بڼی سره تیری تر سره شو ،نو ددی جګړی دیرغل پلان ډیر مخکی طرح شوی وه اوداځکه چی هریوه جګړه مخکی دمخکی یو پراخ پلان او پروګرام جوړونی ته ضرورت لری لکه چی همدغه جګړی دپاره مخکی دمخکی پلان جوړونه ضرور وه .

که څه هم هرهغه څه چی د امریکی اود طا لبا نو تر مینځ خبری اتری دځو راتلونکو ورځو یا هفتو کی موافقی ته هم سره ورسیږی ددی ارزښت نه لری چی دهغه په اړین په دی مقاله کی څه ولیکل شی اوداځکه چی امریکی دا سی یوهیواد دی چی تل او په پرله پسی بڼی سره له تړونونو څخه سرغړونه کړی دي لکه د بیلګی په بڼه په دی وروستیوکی دا یران سره د هستوی توافق نامی یعنی د برجام (برنامه جامع اقدام مشترک =joint comprehensive plan of action) څخه سرغړونه یا دولی شو .

یا داچی د شما لی کوریا سره په دوه ځلی نا سته کی بی پا یلی لاسته راوړنی او پوره ما تی .

دخلیلزاد اود طا لبا نو د وینا اویا د څرګندونو له مخی د سولی د موافقی په اړین تول شیا ن د چها رشنبی په ورځ رامینځته شو اود **دونالډ ترامپ** د رژیم ځا نګړی استا ذی یعنی «ځلمی خلیلزاد» پخپل تویترکی داسی لیکی : دسولی دموافقی په اړین په څلورو رغنده موضوعګانو با ندی چی عبارت له (۱) دضد تروریزم تضمین (۲) له افغانستان څخه د نظا می قوتونو ځا رجید ل (۳) بین ا لافغانی دیالوګ (۴) اوپراخه اور بند.)

باندی موافقی ته ورسید و -
یعنی مونږ پر دغه پورتنی څلور اصل با ندی موافقه وکړل اومونږ اوس ددوه لمړیو اصولو( د تروورزم ضد تضمین او له ا فغا نستا ن څخه د نظا میا نو وتل ) پر مصوبه با ندی سره په توافق ورسیدو چی دهغه پر تحقق با ندی سره کا ر وکړو .
د طا لبا نو یو ویا ند وویل :چی له ا فغا نستا ن څخه د تولو بهرنیا نودوتلو په اړه سره پوره پرمختګ شوی چی یوه یی هم دهغودوتلو دمها ل ویش لنډ یزاو همدارنګه دامریکی له طرفه ضمانت ورکول شا مل دی چي په راتلونکی کی دا فغا نستا ن پوره امنیت په نظر کی سا تی کله چی که پنتا ګون اودهغه پوری تړلی سرتیری له ا فغا نستا ن څخه وځی .
نیویارک تایمزد رویتر په حواله داسی یومطلب په نشر رسولی :چي امریکا دطا لبا نو څخه پوره ضما نت تر لاسه کړی اوهغه داچی طا لبا نو باید نور نظا می جګړه ما روته لکه (داعش اوالقاعده ته اجازه ورنکړی چی د ا فغا نستا ن خا وره دخپل حملاتو دترسره کولو د پا ره پکا ر ویسی .
همدارنګه واشنګتن پُست داسوشیتید پرس د خبری آژانس یو خبر نشر کړی چی په هغه کی دا سی ویل شوی: چی دواړه خواوی یعنی امریکا یا ن او طا لبا ن دامریکی د سرتیرو دوتلو موافقی ته سره رسید لی دی اوطا لبا نو هم موافقه کړی چی هغوی بل هیڅ یوخارجی متها جم اوجګړه ما رو ګروپونو ته اجا زه نه ورکوی چی دافغان قلمرو د خپل پټن ځا یونو د پا ره پکار ویسی اوبیا په سرکی خصوصاُ (داعش او القاعده ) .
د (NBC) اخبار په حواله سره متحد ایالات له طا لبا نو څخه تعهد تر لاسه کړی چی طا لبا ن ورروسته له دی به خپل تول اړیکی دالقاعده اود نورو افراطی او جګړه ما ر ګروپونو سره چی دهغوی رهبری سره مخا لف وی شلوی .
متحده ایالات دغه جهادی ډلی تپلی دخپلو جګړو دتر سره کولو دپاره د نیابتی ځواک په بڼه کار اخلی په شمول ددی چی په افغانستان کی هغوی د طالبانو پر ضد استعمالوی کوم چی دهغوی رهبری غواړی چی دهغوی شمیره له هیواد څخه حذ ف کړي .
دپام وړ اوبیا په خاصه توګه په هیڅ یو مسلو کی لاتراوسه پوری کوم لاسته راوړنی نه دی تر لاسه شوی اوددی احتما ل هم وړل کیږی چی راتلونکی مذاکراتو کی د منل شوی اصولوپه چوکا ټ کی کوم چی دواړه خوا پرهغه با ندی سره موافقه وکړی بیا هم ورسیږي .
جمهوریخواهان اوغیردولتی دموکراتان دا نیت او هوډ لری چی دافغانستان اشغال ته دوام ورکړی سره دهغی که چیری ددی مذاکراتو په پا یله کی سره کوم توافق ته هم ورسیږی اوداهم غیر ممکن نه دی چی امریکا له کړل شوی توافق څخه سرغړونه ونکړی او یا په یو اړخیز بڼی سره توافق نقض نکړی.
دطا لبا نو لوړ مقا ما ت دواشنګتن دامپریالیستی حلقا تو د برخوردونو اود معاملو

پر خطرا تو با ندی پوره پوهاوی لری او پیژنـی چی دغه امپریا لیستی حلقی ځومره زر
د خپل قول او قرار څخه اوړی ، طا لبا ن په احتما لی بنی سره د مثبت خبرو اترو هیله
مند دی اوپه دی پوره ښه پوهیږی چی هیڅکله باید دامریکا یا نو په وعدو با ندي په
بشپړه توګه با ور ونکړل شی .

## دلیکونکی په اړه ځوکړښی :

جایزه ګټونـکي لیکوال « **ستېفن لینډن** »په شیکا ګو کې ژوند کوي. هغه په
لندمانستیفین@sbcglobal.net مینډ لی شي. هغه د نړیوال کولو په اړه د څیړنې
مرکز (CRG) څیړونکی ایسوسی ایټ دی. یا تنظیم کونکی یا مل غړی دی

د هغه نوي کتاب ایډ یټ او مرستندویه "د اوکراین په فاکس پوائنټ" کې لیکل شوی:
د متحده ایاالتو د وسایطو لپاره د بریتانیا د خطر خطر WW III. "

http://www.claritypress.com/LendmanIII.html

د خپل بلاګ ویب پاڼه وګورئ sjlendman.blogspot.com کې.

د دې مقالې اصلی سرچینه Global Research دی

کاپی حق © ستیفن لینډمن، نړیوال څیړنه، 2019

___________________ **په درناوی «2019-03-22»**